ن- باتورپاکباز

له سدنی څخه، ۲۰۱۲/۰۱/۳۱

# دجرمنیانو په کورکی دافغانی او امریکایی ډلی لخوا
## دسولی دپروسی پرضد ناوړه هڅی

افغان باتوراومیرنی ولس دخپل تاریخ په اړدوکی هیچاته داحق ندی ورکړی او نه ورکوی چی دخپلو ځانګړویو اړخیزسیاسی، اقتصادی او نظامی موخو لپاره افغان قومونه وجنګوی، او دجنګی ډلو، مجرمینو او خاصو قومی اقلیتونوپه نامه د افغان باتورمړنی او سرلوړ خپلواک ولس د مهم او حساسو مسایلواو مقدراتوپه هکله لاسوهنه، مداخلی او غونډی وکړی یا خپل نظر او طرحی وړاندی کړی.

که شاته یو ځلنده نظر واچوو، له هغه زمانی نه چی اسلام او مسلمانان پدی خاوره کی مسلط شول یو شمیر واړه حکمرانان او لوی نامتو پاچاهان پدی خاوره کی حکمروایی کړیده چی ځینی ښایسته او نیکی کارونه کړیدی چه زمونږ د تاریخ په پاڼوکی په زرین کرښو لیکل او ثبت دی چی ویاړلی فصل او باب تشکیلوی، او افغانان د دوی د کارنامولی برکته دنړی هیوادونو په کتارکی ډیرارزښتناکه او لوړځای او مقام کټلی دی.

مګربرعکس په خواشینی سره چه د دغه حکمرانانو او پاچاهانو یو شمیر دغباوت له مخی د بدو کارنامو په وجه باندی د خلکو د زوررولو او مصیبتونو زیرول او خاوری ته د ارضی بشپړ تیا لویی زیانونه او جفا ګانی هم رسولی دی چی د تاریخ توری پاڼی تشکیلوی.

دا چه اوس داسی بهیر را روان دی چی دغل نه اتل او اتل نه غل جوړیږی او داسی ناخلف او مشهور بالفساد او دتیری او روانی بدمرغیو او مصیبتونوعاملان او جنایت کاران د افغان یوموټی میرنی ولس او دلرغونی جلا نه منونکی هیواد د متفرق او تجزیی غرراپورته کوی او هڅی کیږی چی یوځل بیا د افغان ولس د ملی مقدراتو او سرنوشت سره لوبی وشی، دا ټول دمحیل او مکارو ځاله او نوی بهرنی دښمنانو همداغه مخکنی سنجول شوی ناوړه پلان د پلی کیدو په موخه دی کوم چی د ۱۹۹۲زیږدیز کال د متحده ایالاتو په بهرنی وزارت د جغرافی کار پوهان او ماهرانو لخوا د افغانستان اوسیمی د جغرافیایی نقشی بدلون طرح وړاندی شوی وو په همدی سلسلی دی چی پخوانی دښمنان د دوستا نو په جامه کی د خپلو ګټی لپاره لاس یوکړیدی.

تجربه ښودلی ده چه د شوروی د متجاوزځواکونو له رسوا ماتی او وتلوسره د شمال تلوالی دکمونستی ګوداګی رژیم بقایا او افرازاتو، ستمیان، دنظار شوری جدایی غوښتونکو وګړو او یوشمیرنورو فرصت طلب عناصرو د ترکیب په رامینځته کیدلو سره او د دوی د ناوړو اعمالو په نتیجه کی و چی نه یوازی د طلبانو د ظهور سبب وګرځید او افغان ولس او هیواد لا بربادیو سره مخ شول بلکه ټول نړیوال ته ګواښ او نا رامی او نا امنی متوجه کړ.

دا درست دهمدغه « دګردنی غلو د قدرت او واکمنی په دوران» کی و چی په هرځلورلاری اودوه، دری کیلومتری کی یو پاچاهی وجود درلود او یوازی په پلازمینه کی څه د پاڅه پنځه شپیته زره کابلی بیګناه ښاریان په ډیره وحشیانه ډول ووژل شول چی وینی لا تراوسه وچ شوی ندی.

دنامتمرکز قدرت او وسیع البنیاد، فدرالیزم او تجزیی، د افغانستان نوم بدلول او نورو ناسجول شوی او غیر مسوولا نه خبری، مفکوره او طرحی کومی چی د شمال تلوالی مطرح کوی د [نو مین لیند ] یا لامالک خا وری ترعنوان لاندی د غباوت نه ډکه ځاله پخوانی انګریزی دوکتورین بیا را ژوندی کوی چی دقومونو، ولسونو په مینځ کی نفاق اچول، هرځوک، هره ډلی اوسازمان خپل ګټی، بزنس، سودا او معاملی ته بوخت کول، او مصروف ساتل او اوبو خټ کول او کبان اخیستل دی چی د ملی محاسبی او تصفیی او د ولس د کرکی نفرت، قهراو پاڅون او د تاریخ د قضاوت څخه هم ویره او اند یښنه نکوی، ځکه چه په سیمه ایز اونړیوال کچه د اندیوالانولخواملا تړکیږی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

نو پردی بناء ترڅوچي په ملک کی داحالت روان وی، د مافیایی غلواو بیارغاونی امن تامینول کاروان ګډ شوی غږ «غبرګ آواز» جلا او توپیرنشی سره او ناسره صالح او ناهل بیل نشی، ملی محاسبی او تصفیی رامینځته نشي، د بن د طراحانواشتباه ګانی او بی عدالتی تصیحیح او جبران نشی، او د افغان ملت واک او حق ته احترام او درناوی ونه شی، چې پرته له لاس وهنی دیکته او مداخلی خپل مقدرات خپله وټاکی. پر بشری حقوقوتیری کونکی او دجنایتونو مسوولین که هغوی پروني دي که نني، ولو که په هررژیم اوډ له پوري اړه ولري، د اسناد او شواهدو پر بنسټ عدالت ته را کش نه شي چی دخپلو کړونونه ځواب و وایي، افغانستان او افغانان به هیڅکله هم دریښتني او دایمي سولې مخ ونه ویني. او پدی صورت واضحه خبره ده چی نړیوالی ټولنی او هیوادونه هم بی برخی نه پاتی ګیږی په ځانګړی توګه د افغانستان د ګاوندیو نا اهله او بی انصاف رژیمونه او واکداران باید پوه شی کوم اور چی د همسایی به کورګی بل شی هرومرو او رد دوی کورته هم سرایت کوی او سوزی.

نن ورځ افغان جلا نه منونکی ویښ او باټورولس خپل دوست او دښمن او هغه لاملونه یا اسبا ب چی د دغه کشالی جرړی تشکیلوی په ډیرښه توګه تشخیص کولای شی همدی ډول هغه کسان چه په ولس کی توکمیز، ژبنی، مذهبی سیاسی تضا دونه راولاړوی پیژنی. دبن د درامی پر بنسټ دانا میمون« ایتلاف چی دګوتوپه شمیرناخلفو افرادولخودخپلو سیاسی موخو، دهوسونواوعقدو، د فردی اوګروهی ګټو په اساس د اجنبی استعماری ځواکونو ترسلطی لاندی راټول شویدی» رسما او علنا د آزادی او دیموکراسی ترچترلاندی تروزرخواروی او نفاق اچوی او مصیبت زیږوی او د نفاق اورته لمن وهی. ترکومه ځایه چی ثابت شویدی هغوی نه یوازی د داسی امتیازاتو نه مستحق نه بلکی محاکمی او عدالت ته باید سوق شوی وای. دهیڅ قوم اومحل نه استازیتوب او ملا تړنلری خوټوپک اوبهرنی استعماری ملاتړدوی نه هرشی جوړکړیدی.

دغه کاذب مدعیان دافغانی ټولنی دجوړیدو کوم ټاکلی ملی پلان اوپروګرام نلری، یوازی د کلمواوشعارونوترشا خپله بڼه پټوی، دحقوقو اوعدالت عامی مسالی مطرح کوی، کله د پراخ بنسټه حکومت او کله د فدرالی جوړښت یا دهیواد دنوم دبدلولو، کله هم داسلامی اواعلای کلمه الله مطرح کوی. خواوس د غربی بی بندوباره دیموکراسیو او بی مسوولیته آزادیو، تش په نامه عدالت ا و... پسی لګیا دی خوپه حقیقت کی پله بین خلک دی چی په هیڅ باندی بند او خلاص ندی فقط هر پله چی درنده وی ځان پکښی اچوی.

ورځ تربله د درامی دنوی پړاونو پربناء کړاونه، قتل وقتال، غلا، اختطاف، ادارای او اخلاقی فساد، ارتشا او پخپل سری او دپردیو ارادی، ایدیالوژی فرهنګ اوکلتور رواجول، ددولت ثلاثه یادری ګونی قواو په مینځ مفتضح رسوایی او قام شرمی اوهله ګولی ایجادول په خاصه توګه په ختیځ، لودیځ او جنوب لودیځ سیمو پربیګناه خلکو بیرحمانه بمباردمان او تباهی چی دهیڅ نورم، میثاق، منطق اوعدالت سره سمون نخوری او جواز نلری دزغملووړندی خو ډوی ته ونازوی او زمینه برابروی. اودولتی خواک او اداره کی د معامله ګری او دپردیو دمورچلونو دساتلو، استتار او پنهان کاری لپاره ځای پرځای کیږی چه په مینه او اخلاص موخو پرمخ بیایی او پلی کړی.

که خبراوړده نشی ډیرشوکالوتجربی دا ثابته کړی ده چی دوی یوازی دخپل شته والی نه دفاع کوی، څرګندۀ ه ده کوم ځواکونه چی دتضادونو پالونکی وی هیڅکله د حل وړګرځیدلی نشی. د افغان ولس کرکه او خپګان هم د دوی په اړه څرګند او واضح دی. پدی مهال نه د دیموکراسی او نه فدرالی سیستم لپاره په دی خاوره کی چی هیڅ ډول امکان او شرایط مساعد ندی ( خکه چی دواړه ځانته ځانګړی امکانات اوغوښتنی لری چی پدی مقاله کی ځای نلری او بیل مبحث او تفصیل ته ضرورت لری) خو د دغه وګړو څرګندۀ غباوت د ملی ګټو او مصالحو سره په تضاد کی قرار لری. پدی حساس مهال او نازکو شیبو داسی یو طرحی نه یوازی افغانانو لپاره د یوزهرجن نسخی حیثیت لری، بلکی نړی او سیمی ته هم له اقتصادی او امنیتی لحاظه زیانمن اوستړګواښ رامیځته کوی. دشاعر په قول:

شیشه بشکستن نیست کار عاقلان شیشه را ګر بشکنی هرزره اش خنجر میشود


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنی د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ